مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۸۷** (از ۱۲ الی ۱۹ میزان ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........................................ ۳

### د امنيتي تړون لاسليک او پر هېواد يې اغېزې

- د تړون په لاسليک کې د بيړې عوامل ........................................ ۵
- د مشورتي لويې جرگې شرطونه ........................................ ۵




## تعهدات هر دو جانب در پیمان امنیتی


- نکات مهم پیمان امنیتی ........................................................................ ۹
- تعهدات غیرالزامی امریکا ...................................................................... ۱۲
- پروسهٔ صلح .................................................................................... ۱۳









# مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې د امریکا او افغانستان ترمنځ د امنیتي تړون په لاسلیک کې د خورا زیاتې بیړې پر عواملو، په دغه تړون کې د حامد کرزي له خوا مطرح شوو شرطونو او همدا راز د نوموړي له خوا رابلل شوې لویې جرګې د غړو له خوا مطرح شوو شرطونو او وړاندیزو له پامه غورځولو په تړاو د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل د بورډ شننې لولئ.

په داسې حال کې، چې د امنیتي تړون متن له خورا زیاتو او جدي ستونزو ډک و، په لاسلیک کې یې له ټولې بیړې کار واخېستل شو. ولسمشر غني د لوړې له مراسمو سملاسي وروسته محمد حنیف اتمر د افغانستان د ملي امنیت شورا د سلاکار په توګه وګوماره او پر سبا یې د نورو جګپوړو افغان چارواکو په حضور کې، په کابل کې د امریکا له سفیر جیمز کننګهم سره پر تړون لاسلیک وکړ.

دا تړون لکه څرنګه یې چې په اړه اندېښنې وې، همغسې په پټو سترګو لاسلیک شو او لړترلړه د مشورتي لویې جرګې له خوا وړاندیز شوې سپارښتنې هم پکې ځای پر ځای نه شوې. دا چې لویې جرګې د دغه تړون د لاسلیک لپاره کوم شرطونه ایښې وو؟ په دغه تړون کې امریکا او افغانستان یو بل ته څه ژمنې ورکړې دي؟ او همدا راز د دغه تړون راتلونکې پایلې او اغېزې به پر افغانستان څه وي؟ هغه موضوعات دي، چې د دې اوونۍ په تحلیل کې څېړل شوي دي.

# د امنيتي تړون لاسليک او پر هېواد يې اغېزې



د امریکا او افغانستان تر منځ امنيتي تړون د اشرف غني احمدزي په مشرۍ نوي ګډ حکومت له خوا په ډېره بېړه لاسليک شو. که څه هم ولسمشر غني د تړون له لاسليک وروسته افغان ولس او د سيمې هېوادونو ته ډاډ ورکړ، چې دا تړون د افغانانو او د سيمې او ګاونډيو هېوادونو په زيان نه دی؛ خو د ولسمشر دا ډاډ ورکونه د ملت قناعت نه شي ترلاسه کولی، ځکه چې:

ايا د تړون د لاسليک لپاره د پخواني ولسمشر حامد کرزي سپارښتنې او شرطونه د تړون په متن کې ځای پر ځای شول؟ او ايا مقابل لوري هغه شرطونه ومنل؟

ايا هغه ۳۱ شرطونه چې مشورتي لويې جرګې د دغه تړون د لاسليک لپاره کېښودل، په دغه تړون کې ځای پر ځای شول؟

اصلاً د تړون هغه متن چې د مشورتي لويې جرګې غړو ته د کتنې لپاره ور وېشل شوی و، د هېڅ افغان لپاره هم د منلو وړ نه و او په ټوليز ډول هغو افغانانو هم، چې د تړون له لاسليک سره په ټول کې همغږي وو، ګڼ شرطونه درلودل؛ خو د لاسليک شوي تړون په متن کې لرترلږه دا موارد هم نه دي ځای شوي او يوازې په پښتو او دري متن کې يې ځينې املايي بدلونونه راغلي دي.

له لويه سره دا تړون په نړيواله کچه د هغو تړونونو له جملې څخه دی، چې د يوه کمزوري او يوه زورور هېواد ترمنځ لاسليک کېږي او يو نااندېوله او د غالب او مغلوب ترمنځ تړون بلل کېږي.

په حقيقت کې دا تړون په افغانستان کې د امريکا او ناټو اوږدمهاله نظامي حضور ته لار برابره کړه، چې د اوږدمهالي جګړې يوازېنی لامل به وي او د ترهګری پر ضد مبارزه به يې د مشروعيت لپاره پلمه وي. له تاريخي پلوه به هم دا تړون د هغو ننګينو تړونونو په کتار کې وي، چې افغانستان يې له امله لاهم خورا زياتې ستونزې ګالي.

## د ټرون په لاسلیک کې د بیړې عوامل

د امنیتي تړون د لاسلیک لپاره د پخواني ولسمشر حامد کرزي د شرطونو او د نوموړي له خوا د تېر ۱۳۹۲ لمریز کال د لړم میاشتې په ۳۰مه رابلل شوې مشورتي جرګې د شرطونو په پام کې نه نیولو، حتا هغه افغانان هم د تړون له مثبتو پایلو نهیلي کړل، چې د دغه تړون له لاسلیک سره په مشروط ډول موافق وو.

ډېری شنونکي په دې اند دي، چې په ولسمشریزو ټاکنو کې درغلی او اوږد جنجال هم اصلاً د امریکایانو له خوا پلان شوې دسیسه وه او په دې توګه یې غوښتل، چې په افغانستان کې یو نسبتاً مشروع، خو کمزوری او وېشلی حکومت رامنځته شي. د دغسې حکومت له رامنځته کولو د امریکا موخه دا وه، چې که یو پیاوړی حکومت په افغانستان کې واکمن شي، ښايي د تړون پر ځای به له دوی سره د حساب او کتاب خبرې راپورته کړي او که بیا تړون لاسلیک هم کړي، د امریکا له خوا د ورکړل شوو ژمنو پر پلي کولو به ټینګار کوي. خو د کمزوري حکومت په موجودیت کې به دوی ته په افغانستان کې د هر ډول کړنو زمینه مساعده وي او دولت به پر خپلمنځي شخړو بوخت وي.

له نوي ګډ حکومت سره په ټوله بیړه د تړون د لاسلیک کولو یو هدف دا و، چې افغانان په تړون کې د بدلونونو په اړه غږ پورته نه کړي او لېترلږه د مشورتي لويې جرګې د وړاندیزونو او شرطونو او همدا راز د حامد کرزي د شرطونو منل کېدو ته د بحثونو زمینه برابره نه شي؛ ځکه د حامد کرزي مخالف دریځ افغانان د تړون منفي پایلو ته متوجه کړل.

## د مشورتي لويې جرګې شرطونه

هغه شرطونه او وړاندیزونه چې د جرګې غړو اېښي وو، د تړون په متن کې نه دي ځای شوي. هغه مهال د مشورتي لويې جرګې له مشروطې پرېکړې وروسته، کله چې حامد کرزي د تړون د لاسلیک کولو لپاره شرطونه کېښودل او د تړون له لاسلیک څخه یې ډډه وکړه؛ یو شمېر هغو رسنیو چې د بهرنیانو له خوا تمویلېږي، یوازې د همدې ټکي لپاره تبلیغات کول، چې ګویا تړون د لويې جرګې له خوا تایید شو؛ مګر د لويې جرګې له خوا د تړون د لاسلیک لپاره پر اېښودل شوو شرطونو یې، سترګې پټولې.

که څه هم له لویه سره مشورتي لويې جرګې د افغانستان د ټول ملت استازیتوب نه شو کولای؛ خو بیا هم جرګې په خپل پرېکړه لیک کې د تړون د لاسلیک لپاره ۳۱ شرطونه کېښودل او ډېری غړو یې له رسنیو سره په خبرو کې وویل، چې که په تړون کې د لويې جرګې شرطونه او وړاندیزونه په پام کې ونه نیول شي، دا تړون هېڅ افغان ته هم د منلو وړ نه دی.

لومړی خو دا چې د مشورتي لويې جرګې په پرېکړه لیک کې په ټینګار سره راغلي وو، چې د ټولو غړو د رایو په اتفاق سره دغې جرګې ته د ولسمشر کرزي د وینا ځینې مهم ټکي، په تېره د سولې د سملاسي ټینګښت، د امنیتي وضعیت ښه کولو، په سملاسي

ډول د بهرنيو ځواکونو د عملياتو او تلاشيو درولو او له افغانانو سره د امريکا د متحده ايالاتو په دوستۍ کې صداقت او داسې نور په څلورو اضافي مادو کې، د لويې جرګې د پرېکړو برخه ده او د تړون اصلي هدف په هېواد کې د سولې او امنيت ټينګښت دی؛ خو امريکايانو په تېر کابو يوه کال کې لړترلړه د سولې د ټينګښت لپاره هم، هېڅ ډول ګام پورته نه کړ.

د تړون په متن کې د بدلون لپاره د پرېکړې ليک په نورو مادو کې ځينې راغلي شرطونه او وړانديزونه په لاندې ډول وو:

۱- د ۱۳۹۰ کال د لويې جرګې پر پرېکړې او د دواړو هېوادونو ترمنځ د لاسليک شوي ستراتېژيک تړون پر ژمنو ټينګار. هغه ژمنې چې امريکا عملي نه کړې.

۲ - د افغانستان د خودکفايي لپاره د نړيوالې ټولنې ملاتړ.

۳ - د اسلام مقدس دين، د افغانانو فرهنګ او رسم او رواج ته د درناوي جدي رعايت.

۴ - د سولې د پروسې ګړندي کول او د بين الافغاني خبرو اترو له لارې په ټول افغانستان کې د امنيت ټينګښت. کوم څه چې امريکا يې په اړه ګام پورته نه کړ.

۵ - په ۲۵مه ماده کې دې، په ټول افغانستان کې د امنيت او سولې د ټينګښت لپاره د ملموسو اقداماتو د عملي کولو په تړاو، خامخا يو پاراګراف د دواړو لورو د تضمين پر بنسټ زيات شي. ځکه امريکا په تړون کې هېڅ ډول الزامي ژمنه نه ده ورکړې.

۶ - که امريکا خپلې ژمنې په وخت سره عملي کړې، افغان حکومت دې هله دا تړون د دواړو هېوادونو د اړيکو د پراختيا د بنسټ په توګه وکاروي.

۷ - د تړون اهميت ته په کتلو سره بايد د سند انګليسي، پښتو او دري متنونو ترمنځ توپير او د پښتو او دري ژباړې ستونزې له منځه يوړل شي. د ترهګرۍ، تېري، قرارداد، د اډو د حدودو اصطلاحاتو ګونګتيا دې له منځه يوړل شي او د دغو اصطلاحاتو د سم تعريف لپاره دې حقوقي تعارفي مفاهيم وکارول شي.

۸ - د هغو امريکايي پوځيانو د محاکمې لپاره چې په افغانستان کې جرمونه کوي، بايد يو ميکانېزم جوړ شي، چې د تحقيق او محاکمې په جريان کې به د افغانانو شتون پکې حتمي وي او امريکا به يې مالي لګښتونه ورکوي.

۹ - د بې پلوۍ اصل د رعايت په موخه به، هغه بهرني سرتېري چې په افغانستان کې جرم کوي، د امکان تر بريده د افغانستان په خاوره کې دننه محاکمه کېږي او همدا راز امريکا په هېڅ ډول شرايطو کې هم د افغانستان په خاوره کې زندان نه جوړولی شي او نه يې مديريت کولی شي.

۱۰ - پوځي عمليات او د کورونو تلاشۍ د منلو وړ نه دي او د اوباما هغه ليک چې حامد کرزي ته يې را استولی و او د افغانانو پر کورنو د عملياتو نه کولو په اړه مشروط ډاډ پکې ورکړل شوی و، بايد له تړون سره ضميمه شي.

۱۱ - امریکایي ځواکونه باید د افغانستان د اقتصادي پراختیا په موخه، خپل قراردادونه له افغاني شرکتونو سره وکړي.

۱۲ - د افغان ځواکونو روزنې او په تېره د هوايي ځواک پیاوړتیا ته باید کلکه پاملرنه وشي او باید داسې میکانیزمونه جوړ شي، چې د له پرمختللو وسلو سره د افغان ځواکونو تجهیز تضمین کړي. د کوم څه په اړه چې په تړون کې غیرالزامي ژمنې ورکړل شوې.

۱۳ - د نویو تاسیساتو د ورکولو او یا هم موجوده ساحو او تاسیساتو د بدلولو په اړه د موافقې صلاحیت باید یوازې د افغانستان ولسمشر ولري او د امریکایي ځواکونو له خوا جوړېدونکي تاسیسات باید ښه کیفیت ولري او د موقتي ودانیو له جوړولو دې ډډه وشي.

۱۴ - په ګډو پوځي تاسیساتو کې به د امرکایي ځواکونو شتون، د افغان ځواکونو د ښوونې، روزنې او تخنیکي مرستو لپاره وي.

۱۵ - په امنیتي تړون کې باید وړاندوینه وشي، چې امریکایي ځواکونه نه شي کولی له مجازي فضا، انټرنېټي او ټېلېفوني شبکو او مخابراتي فریکونسیو څخه د استخباراتي مقاصدو او یا په کوم بل ډول د افغان وګړو پر ضد استفاده وکړي.

۱٦ - د افغانستان بهرنی پالیسي باید د ښه ګاونډېتوب پر بنسټ وي؛ امنیتي تړون نه شي کولی ترهېڅ ډول شرایطو لاندې د دې پالیسی مخالف وي او امریکایي ځواکونه نه شي کولی د نورو هېوادونو پر ضد د افغانستان له خاورې د پوځي مقاصدو لپاره ګټه پورته کړي.

۱۷ - د تړون لپاره د چمتو شوې مسودې د ٢٦مې مادې په لومړي بند کې راغلي چې: «...دغه قرارداد د ۲۰۲۴ کال تر پایه او له هغې وروسته نافذ دی،...»؛ خو د مشورتي لویې جرګې د پرېکړېلیک د څلورم بند له مخې، د جرګې ګډونوالو دا شرط درلود، چې دا تړون به د لسو کلونو لپاره د اعتبار وړ وي او له لسو کلونو هاخوا به نه غځول کېږي او قرارداد به د دوو مستقلو هېوادونو په څېر او د مساوي حقوقو په لرلو سره لاسلیک کېږي.

۱۸ - د امریکا له لوري د افغانستان د فضايي حریم د کارولو کړنلارې دې په عاجله توګه د افغانستان ملي حاکمیت او پر فضايي او ځمکني حریم د افغانستان د بشپړ کنټرول په پام کې نیولو سره، تدوین شي.

۱۹ - د امریکایي ځواکونو د تګ راتګ لپاره له ټاکل شوو سرحدي نقطو څخه، د دغو ځواکونو او د هغوی د ملکي کارکوونکو د داخلېدو او وتلو کړنلارې دې ژر تر ژره تدوین او بشپړې شي.

۲۰ - د پیسو د لېږد، کارونې او تبادلې کړنلارې دې ژر تر ژره تدوین او تطبیق شي.

۲۱ - ملکي برخه او حقیقي او حکمي کسان چې د امریکا په پوځي ځواکونو پورې تړاو نه لري او په افغانستان کې له دغو ځواکونو سره په سوداګریزو فعالیتونو بوخت دي، باید د افغانستان د قانون مطابق مالیه ورکړي.

۲۲ - که په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو په عادي فعالیتونو او یا پوځي عملیاتو کې د افغانانو او یا هغو کسانو چې د افغانستان د دولت تر حاکمیت لاندې په هېواد کې ژوند کوي، منقولو او غیرمنقولو شتمنیو، کښتونو، څارویو او یا معنوي حقونو ته صدمه ورسېږي، امریکایي ځواکونه باید په سملاسي ډول هغوی ته د عادلانه تاوان په ورکولو مکلف وي.

۲۳ - پر افغانستان د بهرني تېري او یا د بهرني تېري د ګواښ دفع کولو لپاره باید د دیپلوماتیکو، سیاسي، نظامي او اقتصادي اقداماتو لېست ژر تر ژره چمتو شي.

۲۴ - د مشورتي لویې جرګې غړي پر چاپېریال ساتنه، د کیمیاوي، بیولوژیکي او اتومي توکو په نه کارولو ټینګار کوي او د افغانستان له دولت څخه غواړي، چې د هېواد په خاوره کې د اتومي وسلو د زېرمه کولو او کارولو جدي مخنیوی وکړي.

۲۵ - په افغانستان کې د کانونو اهمیت ته په کتو سره، د مشورتي لویې جرګې غړي وړاندیز کوي، چې د کانونو، تر ځمکې لاندې سرچینو، ګرانبیه ډبرو او د هېواد د لرغونو اثارو د ساتنې لپاره دې د اوومې مادې په اوومه فقره کې یو بل بند هم زیات شي.

۲۶ - که د امریکا متحده ایالات په خپلو ژمنو سم عمل ونه کړي، افغان لوری باید په لومړي ګام کې د امریکا د متحده ایالاتو لپاره وړاندیز شوي امتیازات لغوه او د اوضاع تحلیل ته په کتو سره د بدیلو لارو د پلټنې لپاره اقدام وکړي.

۲۷ - د امنیتي تړون د تطبیق لپاره باید، د افغان لوري مسؤوله مرجع (اجرایوي استازی) مرکزي حکومت، د ملي امنیت شورا او یا هم د بهرنیو چارو وزارت وي.

۲۸ - د مشورتي لویې جرګې غړي، افغان حکومت ته په ګوانتانامو کې د ۱۹ تنو افغان بندیانو د ژر تر ژره سپارلو غوښتونکي دي.

## تعهدات هر دو جانب در پیمان امنیتی



از مطالعهٔ این پیمان دو جانبه که دارای ۲۶ ماده و دو ضمیمه می‌باشد، به نکات زیر پی می‌بریم:

### نکات مهم پیمان امنیتی

۱ – این پیمان در حقیقت سندی است که برای امریکا حق تأسیس پایگاه‌های دایمی در افغانستان را داده و دست آنان را باز می‌گذارد تا بعد از سال ۲۰۱۴ فعالیت‌هایی را در افغانستان داشته باشند که حاکمیت ملی و استقلال کشور را از بین می‌برد. در کنار آن، این پیمان برای قراردادی‌های نیروهای امریکایی نیز صلاحیت‌های بزرگی می‌دهد.

۲ – ایالات متحدهٔ امریکا مناطق استراتژیک چون کابل، بگرام، مزارشریف، هرات، قندهار، هلمند، گردیز، جلال آباد را برای تأسیس پایگاه‌های خود انتخاب کرده و نشانگر آن است که هدف مستقر شدن آنان در افغانستان، طوری نیست که ظاهراً گفته می‌شود، بلکه این پایگاه‌ها برای اهداف استراتژیک دیگری که شاید از حدود افغانستان فراتر باشد، تأسیس می‌شوند.

۳ – تعداد سربازان امریکایی که درین پایگاه‌ها جایگزین می‌شوند مشخص نشده است، تا امریکا در تعیین آن دست باز داشته باشد.

۴– این پیمان برای مدت ده سال قابل اعتبار است و اگر فسخ نشود، طبق فقرهٔ اول مادهٔ ۲۶ به شکل خودکار تجدید می‌گردد. بدین معنا که پایگاه‌های نظامی امریکا در افغانستان موقت نبوده بلکه دایمی می‌باشند.

۵ – نیروهای خارجی مستقر در این پایگاه‌ها می‌توانند، در تمام مناطق افغانستان عملیات نظامی را انجام دهند. در بند چهارم مادهٔ دوم آمده است: "طرفین توافق دارند که عملیات نظامی ایالات متحده برای شکست القاعده و وابستگان آن، در چوکات مبارزهٔ مشترک با تروریزم انجام می‌شود." امریکا در خواست افغانستان مبنی بر عدم دخول به خانه‌های افغان‌ها و تلاشی آنرا، نیز نپذیرفته است و تعهد مشروطی را در این خصوص داده است. از سوی دیگر کلمهٔ "تروریزم" و "وابستگان القاعده" نیز بی‌تعریف مانده است.

۶ – بر اساس مادۀ هفتم این پیمان، پایگاه‌ها به شکل کامل تحت تصرف نیروهای امریکایی می‌باشند، هرچه خواسته باشند بدون هیچگونه قید و نظارتی در آن انجام می‌دهند. هیچ کسی بدون اجازۀ نظامیان امریکایی، حق داخل شدن به پایگاه‌ها را ندارد و همچنان این پایگاه‌ها رایگان و بدون پرداخت هرگونه هزینه به دولت افغانستان، می‌باشند. از سوی دیگر، حدود و تعداد تأسیسات امریکا در افغانستان نیز نامعین و بربنیاد بند هفتم مادۀ اول آنان می‌تواند از ساحات دیگری نیز در آینده برای پایگاه‌های خود استفاده نمایند.

۷ – ایالات متحدۀ امریکا می‌تواند از خاک افغانستان به عنوان ذخیره‌گاه سلاح و تجهیزات خود استفاده کند. طبق مادۀ نهم این پیمان، نیروهای امریکایی می‌توانند وسائل، سلاح، تجهیزات و اکمالات خویش را در داخل پایگاه‌ها و ساحات توافق شده و دیگر محلاتی که طرفین بر آن توافق می‌کنند، نگهداری کنند. نیروهای ایالات متحده حق مالکیت و کنترول بر استفاده و تعبیه وسایل، اکمالات و تجهیزاتی ذخیره شده در قلمرو افغانستان را داشته و نیز حق دارند این وسایل، اسلحه و تجهیزات را، به بیرون از قلمرو افغانستان انتقال دهند.

۸ – بر اساس مادۀ دهم پیمان، افغانستان به تمام هواپیماهایی که تابع نیروهای امریکایی بوده و یا هواپیماهایی که برای این نیروها کار می‌کنند، به هر آنچه نیاز داشته باشند، اجازه می‌دهد. این هواپیماها هیچ نوع مالیاتی را به دولت افغانستان نپرداخته و هزینه‌ای در مقابل استفاده و توقف در میدان‌های هوایی افغانستان نیز نمی‌پردازند. در کل، نیروهای خارجی و وابستگان آنان از هر نوع مالیات، تکس، حق العبور و غیره معاف شده‌اند، در حالیکه اگر امریکا ملزم به این نوع مالیات می‌شد، افغانستان همه‌ساله بیش از آنچه که امریکا به آن تعهد سپرده است، به دست می‌آورد.

۹ – همچنان در همین ماده آمده است که افغانستان به تمام وسایل نقلیۀ که تابع نیروهای امریکایی باشد، اجازۀ دخول، خروج و گشت و گذار در افغانستان را داده و این وسایل تحت هیچ نوع ثبت و مراقبت حکومت افغانستان نمی‌باشند. همچنان هواپیماها و وسایل نقلی که مربوط حکومت امریکا اند، از هر نوع نظارت، تفتیش، ثبت و پرداخت مالیات معاف می‌باشند.

۱۰– مادۀ یازدهم پیمان می‌نگارد که تمامی قراردادی‌های که برای نیروهای امریکایی در افغانستان، کارهای ساختمانی، اکمالاتی و غیره را انجام می‌دهند، در همه امور تابع قوانین امریکا بوده و تمامی کارمندان نیروهای امریکایی و قرادادی‌های آنان در افغانستان، از تمام انواع ثبت و پرداخت مالیات معاف می‌باشند و تنها برای اخذ مجوز کاری به ادارۀ حمایت از سرمایه‌گذاری، یک بار مالیه می‌پردازند که در هر سه سال به تجدید نیاز دارد.

۱۱– نیروهای امریکایی، کارمندان و قراردادی‌های آنان حق استفاده از خدمات عامه مانند برق، آب و گاز را دارند و این خدمات برایشان در مقابل همان قیمتی تهیه می‌شود که برای نیروهای افغانستان تهیه می‌شود و نیروهای خارجی هیچ نوع مالیات اضافی در مقابل آن نمی‌پردازند.

۱۲ – دولت افغانستان بعضی از امواج رادیویی و تلوزیونی را برای نیروهای امریکایی به شکل رایگان و بدون اینکه

امریکایی‌ها در مقابل آن چیزی بپردازند، تخصیص می‌دهد. نیروهای امریکایی اجازه دارند تا ازین امواج طبق ضرورت خود استفاده نمایند، چنانچه در متن پیمان آمده است که امریکا می‌تواند از طریق این امواج اختصاصی شان، برای نیروها و منسوبین خود برنامه‌های تفریحی را نشر نماید. واضح است که این برنامه‌های تفریحی به حدود پایگاه‌های نظامی منحصر نبوده بلکه به مناطق مسکونی نیز سرایت خواهند کرد. این امر باعث ایجاد تشویش‌هایی در مورد تأثیرات اخلاقی و فرهنگی این برنامه‌ها شده است.

۱۳ – از مهم ترین اموری که در پیمان ذکر شده است، مسألۀ مصئونیت قضایی کامل برای نیروهای امریکایی در افغانستان می‌باشد. مادۀ سیزدهم این پیمان صراحت دارد که تمام منسوبین نظامی و ملکی نیروهای امریکایی، دارای مصئونیت کامل قضایی در افغانستان می‌باشند. آنها هر جرمی را که در داخل خاک افغانستان و در مقابل هر شخصی مرتکب شوند، مطابق قانون افغانستان محاکمه نخواهند شد. هیچ اداره و جهت امنیتی افغان حق دستگیری هیچ یک از منسوبین نیروهای امریکایی را در هیچ حالتی ندارد و اگر احیاناً یکی از منسوبین نیروهای امریکایی از سوی افغان‌ها دستگیر شود، باید به اسرع وقت دوباره به نیروهای امریکایی تسلیم داده شود. همچنان هیچ یک از منسوبین نیروهای امریکایی به محاکم بین‌المللی و یا محکمۀ هیچ دولت دیگری بدون موافقۀ صریح امریکا، تسلیم داده نمی‌شود.

۱۴ – در مادۀ چهاردهم این پیمان ذکر شده که اعضای ملکی و نظامی نیروهای امریکایی، بدون گرفتن اجازه‌نامه از حکومت افغانستان، حق حمل سلاح را دارند.

۱۵ – مادۀ پانزدهم می‌نگارد که منسوبین ملکی و نظامی نیروهای امریکایی اجازه دارند تا از تمامی بندرها و میدان‌های هوایی افغانستان، به شکل فردی یا گروهی و بدون پاسپورت و ویزا داخل افغانستان شوند. تنها کافی است تا کارت‌های هویت خود را که حکومت امریکا برایشان داده است، با خود داشته باشند و آنان از قوانین افغانستان برای ثبت و مراقبت اتباع خارجی، مستثنا می‌باشند.

۱۶ – بر اساس این پیمان باید حکومت افغانستان به تمامی کارمندان و قراردادی‌های نیروهای امریکایی، ویزای یک‌ساله با حق دخول متعدد صادر نموده و این کار را باید به سرعت انجام دهد. اگر مقامات افغان از صادر نمودن ویزه برای یکی از آنها امتناع ورزیدند، ملزم اند تا نیروهای امریکایی را درین مورد آگاه بسازند.

۱۷ – در مادۀ شانزدهم این پیمان آمده است که نیروهای امریکایی حق دارند تا هرچه خواسته باشند بدون پرداخت هرگونه مالیات و تکس گمرک، به افغانستان وارد نمایند و هرچه خواسته باشند به خارج کشور صادر نمایند، بدون اینکه کسی حق تفتیش و نظارت آنرا (جز در حالات استثنایی) داشته باشد. و همچنان آنان برای این‌کار به هیچ نوع اجازه‌نامۀ نیز نیاز ندارند.

۱۸ – مادۀ هفدهم پیمان می‌نویسد که تمامی اعضای نیروهای امریکایی، اعم از ملکی و نظامی از تمام انواع مالیاتی که حکومت افغانستان بر کارمندان خارجی وضع می‌کند، معاف اند. همچنان تمام قراردادی‌های این نیروها که در افغانستان ساکن نبوده و شهروندان اصلی افغانستان نیستند، نیز از تمام انواع مالیات معاف می‌باشند.

۱۹ – در مادهٔ هژدهم پیمان آمده است که جواز رانندگی و سایر جوازهایی که از طرف جهت‌های امریکایی به اعضای نیروهای نظامی، ملکی، قراردادی‌ها و کارمندان قراردادی‌های آنان صادر می‌شود، در افغانستان مدار اعتبار بوده و همچنان مقامات افغان، نمبر پلیت‌های رسمی افغانستان برای موترهاییکه نیروهای امریکایی به آن ضرورت دارند، بدون مالیات و تکس صادر می‌نمایند.

۲۰ – براساس مادهٔ ۲۴ پیمان، افغانستان نمی‌تواند از تخلفات امریکا به محاکم بین‌المللی و جهت‌های میانجی مراجعه کند: "هرگونه اختلاف نظر و یا منازعه در خصوص تفسیر و تطبیق این قرارداد باید از طریق مشورت میان طرفین حل گردیده و نباید به هیچ گونه دادگاه ملی یا بین‌المللی، دیوان محاکمات و یا نهاد مشابه و یا طرف ثالث به منظور حل و فصل ارجاع گردد."

بر علاوهٔ این مسائل در جریان گفتگو بر سر پیمان امنیتی، در بعضی از اسناد فرستاده شده توسط هیئت افغانی آمده بود که جانب امریکایی اصرار دارد که شبکهٔ (CIA) و عملیات طیاره‌های بدون سرنشین، تابع این پیمان نخواهند بود.

این پیمان در حقیقت به نیروهای امریکایی، تمامی کارمندان و قراردادی‌های آنان، برای هرگونه فعالیت‌ها ازادی کامل می‌دهد و به هر اندازهٔ که این آزادی‌ها برای امریکایی‌ها بیشتر می‌شوند، در مقابل آن حاکمیت ملی افغانستان زیر سوال می‌رود.

## تعهدات غیرالزامی امریکا

امریکا در مقابل تمامی چیزهایی که براساس این پیمان به دست می‌آورد، تعهدی نسپرده است. جانب افغانی در مذاکرات دوجانبه از امریکا خواسته بود، تا به پرداخت بودیجهٔ معینی برای تمویل نیروهای افغان تعهد نماید، اما امریکا در این پیمان چنین تعهدی را نداده و همان سخنی را که در پیمان استراتژیک، که بتاریخ 5 ماه می سال ۲۰۱۲ امضا شده است، تکرار نموده است. در بند سوم مادهٔ چهارم پیمان امنیتی، با اشاره به پیمان استراتژیک بین امریکا و افغانستان و با در نظر داشت فیصله‌های کنفرانس شیکاگو در سال ۲۰۱۲، آمده است که مسؤولیت ایالات متحدهٔ امریکا این است تا برای تربیه، تجهیز و تقویت نیروهای افغان در جستجوی منابع مالی باشد. امریکا منابع مالی را جستجو می‌کند و اگر بدست نیاورد، این تعهد، امریکا را به هیچ امری ملزم نمی‌گرداند.

همچنان در مورد تجاوز خارجی، آنچه را امریکا در مادهٔ ششم پیمان در صورت تجاوز و مداخلهٔ خارجی در افغانستان تعهد سپرده است، عبارت از برگزاری مجالس مشترک و مشوره دراین مورد است. پیمان در فقرهٔ سوم مادهٔ مذکور تصریح می‌کند: "در صورتیکه افغانستان در معرض تجاوز قرار گرفت و یا مورد تهدید چنین تجاوزی قرار گرفت، هر دو طرف پیمان (امریکا و افغانستان) در مورد اقدامات لازم سیاسی، اقتصادی و عسکری به مشوره‌های منظم می‌پردازند." تمامی بندهای وارد شده درین ماده بر محور مشوره می‌چرخد، و این امر به هیچ صورتی به آنچه جانب افغانی در مذاکرات خواهان آن بود، نمی‌رسد.

ولی تمام امور ذکر شده در پیمان و آنچه را امریکا بدوش گرفته است، به اندازۀ نیست که در مقابلش توانست از حاکمیت ملی کشور گذشت. از همین‌رو بسیاری از تحلیلگران به این نظر اند که تغییر غیر مترقبه در موقف حامد کرزی در مورد امضای این پیمان، نیز سرچشمه از احساس بی‌عدالتی که با جانب افغانستان دراین پیمان شده است، می‌گیرد. حامد کرزی توقع داشت که این پیمان خیلی بهتر از آن خواهد بود که فعلاً هست، و به سبب آن صلح و استقرار به افغانستان باز خواهد گشت.

چنانچه حامد کرزی در مجلس افتتاحیۀ لویه جرگه گفت: "غیرتم مرا اجازه نمی‌دهد تا برای خارجی‌ها در افغانستان پایگاه بدهم، لکن من به بخاطر صلح و آرامش این امر می‌پذیرم، پس اگر در نتیجۀ این پیمان به صلح و استقرار نرسیم، هرچیز را باخته‌ایم. آنها در پایگاه‌های خود در آرامش خواهند بود و ما در میان خود خواهیم جنگید و پرزخم خواهیم بود."

## پروسۀ صلح

پیمان امنیتی با امریکا، صلاحیت‌هایی فراوانی را به جانب امریکا می‌دهد، اما در مقابل آن تعهدات نامشخص به جانب افغان داده و بجای آنکه در متن پیمان موارد عملی و تعهدات الزامی جابجا شود، بیشتر از کلمه‌های چون احترام و غیره استفاده شده که هیچ نوع الزامیت حقوقی ندارد.

در کنار آنکه این پیمان باعث تقویت اقتصادی و امنیتی افغانستان نخواهد شد، پروسۀ صلح نیز که نیاز اصلی افغانستان است، حداقل تا سال ۲۰۲۴ میلادی ناممکن به نظر می‌رسد و پس از آن نیز اگر بربنیاد مادۀ ۲۶ این پیمان، نیروهای خارجی در افغانستان باقی می‌مانند، امیدی برای تأمین صلح در کشور وجود نخواهد داشت. از سوی دیگر، با از امضای این پیمان صفوف نیروهای مخالفین دولت، بیش از پیش تقویت خواهند شد و جنگ آنان بیشتر معنادار خواهد شد.

هرچند رئیس جمهور غنی پس از امضای این پیمان گفت که در آینده نیز می‌توانند در این پیمان تغییراتی بیاورند، اما این سخن رئیس جمهور به هیچ صورت عملی به نظر نمی‌رسد. ایالات متحدۀ امریکا در زمان گفتگو بر سر پیمان امنیتی باوجود فشارهای حکومت افغانستان موضوعات زیادی را نپذیرفت، در آینده چگونه ممکن خواهد بود که با تقاضای افغانستان، تغییراتی در پیمان بیاورد؟! پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)